شتمنی
SHTAMANAI

**قرآني آيت:**
او مالونه مو په خپلو کي په ناحقه مه خورئ او واکمنانو ته ئې د دې لپاره مه وړاندي کوئ چي د خلکو د مال کوم څه په ناروا وخورئ، په داسي حال کي چي پوهېږئ. ( سورت القره: آیت، ۱۸۸)

يکشنبه | ۲۰ شعبان ۱٤٤۳ / ۱ جوزا ۱٤۰۱ | ۲۲ مى ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۲۰ | ٤ صفحه


سرمقاله



## خپلواکه بودیجه
## ځان بسیاینې ته یو بل ګام

د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته دا لومړنی ځل دی، چي یو کلنه بودیجه تصویبېږي. که څه هم د ۱۴۰۰مالي کال وروستیو دریو میاشتو بودیجه تر یوه ستر بدلون را وروسته تصویب سوه، ولي د یوې کلنې بودیجې د اوږد مزل لومړۍ تجربه ده، په داسي حال کي چي هیواد له سترو اقتصادي، مالي او د نغدو پیسو له کمښت سره مخ دئ. د روا مالي کال ملي بودیجه یوه له هغو ده، چي هیڅ راز بهرنی مالي ملاتړ نه لري او د افغانستان د چارود څار او هغه هیوادونه چي په تېر نظام کي یې مالي مرستي کولي د تعجب په نظر ګوري، ځکه چي په داسي یوه بېوزله هیواد کي چي هیڅ راز ملاتړ ونه لري، ځنګه کولای سي له خپلو کورنیو عوایدو ملي بودیجه ترتیب کړي، پراختیایي چاري که څه هم لږي دي پرمخ بوزي. دغو ټولو مسایلو ته په کتو سره، داسي حس کیږي، چي د هیواد په عوایدي سرچینو کي د فساد پر وړاندي کوټلي ګامونه پورته سوي، د هیواد شتمني چي همدا عواید دي، د محدود شمېر خلکو له شخصي جیبونو را ګرځېدلي، په عوایدي سرچینو او ګمرکونو کي له ټولو کارکونکو سره د هیواد د ځان بساینې انګېزه لا پیاوړې سوې او افغانانو دا ومنله چي پردی کټ تر نیمو شپو دئ او مور هیڅکله هم په پردي دسترخوان نه مړېږو، نو راځئ! د هیواد مالي ځان بسیاینې او اقتصادي پرمختګ ته مټې را ونغاړو، ترځو د پردیو له لاس نیوي خلاص سو، خپل ملي عواید په ښه توګه راټول کړو او هره افغانۍ د هیواد د پرمختګ او ځان بسیاینې په موخه مصرف کړو. د حکومتونو د پالیسۍ د عملي کولو یوه وسیله بودیجه ده. د نظام له بدلون او اسلامي امارت له حاکمیت وروسته، شرایطو ته په کتو د مالي کال مهالویش بدلون سره د درې میاشتو (جدي، دلو او حوت) بودیجه د بهرنیو مرستو پرته د کورنیو عوایدو پر بنسټ تصویب او په سمه توګه پلي سوه او د ټولو دولتي کارکوونکو معاشونه ورکړل سول. ورپسې د کورنیو سرچینو له درکه د ۱۴۰۱ هـ ل مالي کال ملي بودیجه باندي کار پیل سو او د ۱۴۰۱هـ ل مالي کال لپاره څه باندي (۲۳۱) میلیارده افغانۍ بودیجه ترتیب سوه، چي له دې شمېر څخه (۲۰۳) میلیارده افغانۍ عادي بودیجه او څه باندي (۲۷) میلیارده افغانۍ پراختیایي بودیجه نومول سوې ده. د روان مالي کال بودیجه په بشپړه توګه له کورنیو عوایدو څخه ترتیب او هیڅ ډول بهرنی مالي ملاتړ نه لري. د ۱۴۰۱هـ ل مالي کال بودیجې هدف (۱۸٦) میلیارده افغانیو څخه پورته تاکل سوی وو، چي حکومت وکولای سول دغه هدف ۲۳۱ میلیارده افغانیو ته لوړ کړي، خو له دې سره (۴۴) میلیارده افغانۍ بودیجوي کسر هم رامنځته سوی. تمه سته چي یاده کچه به د کورنیو عوایدو له لوړېدو سره هم مهال بشپړه سي. د هیواد پر مالي سرچینو وضعه سوو محدودیتونو ته په کتو په پراختیایي بودیجه کي یواځې هغه پروژې په نظر کي نیول سوي دي، چي عواید یې د نورو پروژو په پرتله زیات دي او د اقتصادي ودي له پلوه د خلکو پر ژوند باندي مستقیم اغیز لري. هغه پروژې، چي د عوایدو په لوړېدو کي به له ملي بودیجې سره مرسته وکړي د ریل پټلۍ او قوش تېپې کانال د یادوني وړ دي. همدا شان د سږ کال په بودیجه کي د معاشونو د برابروالي او سیما په موخه د معاشونو د تنظیم کمیسیون ایجاد سوی او د ټولو دولتي کارکونکو پر معاشونو یې بیا کتنه کړې ده، چي په پایله کي د لوړ پوړو دولتي چارواکو معاشونه تر یوه بریده را کم سوي او د ټیټ رتبه کارکونکو په معاشونو کي کوم بدلون نه تر سترګو کیږي. همدا رنګه یاد کمېسیون د وظیفوي تراکم او موازي تشکیلاتو د مخنیوي په موخه د ټولو دولتي ادارو پر تشکیل بیا کتنه کړې او هڅه یې کړې، چي د پټې بې کارۍ مخنیوي وکړي. په ټول هیواد کي د روغتیا او زده کړو په برخه کي د ښو خدمتونو د وړاندي کولو په موخه د یادو ادارو په تشکیل کي د پام وړ زیاتوالی راغلی دئ او ترځنګ یې د غیر ضروري لګښتونو او تجملي اجناسو پېرلو څخه مخنیوی سوی او د افغانستان اسلامي امارت د ملي عوایدو لوړولو او فساد د له منځه وړلو ته جدي پاملرنه سوې ده.

# د ۱۴۰۱ مالي کال د ملي بودیجې د تصویب په تړاو مطبوعاتي کنفرانس ترسره شو

د ۱۴۰۱ مالي کال ملي بودیجې د تصویب او دولتي تشکیل د وروستي کولو په موخه مطبوعاتي کنفرانس د ماليې وزارت په خیبرهال کي ترسره سو.
په دغه کنفرانس کي د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري، د ښارجوړوني وزیر مولوي حمدالله نعماني، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزیر نجیب الله حقاني، د چارو اداري رئیس مولوي بلال، د عوایدو او ګمرکونو معین الحاج ملا محمد ناصر اخند، د افغانستان بانک استازي او یو شمېر کورنیو او بهرنیو رسنیو ګډون کړی وو.



د کنفرانس په پیل کي د رئیس الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ګډونوالو ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل: زموږ نننی کنفرانس د ۱۴۰۱ هـ ل مالي کال د ملي بودیجې د تصویب په اړه دئ، ملي بودیجه د حکومتونو د پالیسي د عملي کولو یوه وسیله ده. د نظام له بدلون او اسلامي امارت له حاکمیت وروسته، شرایطو ته په کتو د مالي کال مهالویش بدلون سره د درې میاشتو (جدي، دلو، حوت) بودیجه د بهرنیو مرستو پرته د کورنیو عوایدو پر بنسټ تصویب او په سمه توګه پلي سوه او د ټولو دولتي کارکوونکو معاشونه اجرا سول. وروسته بیا د کورنیو سرچینو پر بنسټ د ۱۴۰۱ل مالي کال پر ملي بودیجه باندي کار ترسره سو، چي د دغي بودیجې وړاندوینه (۲۳۱،۴) میلیارډه افغانۍ سوې ده، چي له دې شمیر څخه (۲۰۳،۴) میلیارډه افغانۍ یې عادي بودیجه او (۲۷،۹) میلیارډه افغانۍ یې انکشافي بودیجه ده، چي په بشپړه توګه له کورنیو عوایدو څخه ترتیب سوې او هیڅ ډول بهرنی مالي ملاتړ نه لري.
نوموړي همدا رنګه وویل: چي د ۱۴۰۱ ل مالي کال بودیجې هدف (۱۸٦) میلیارډه افغانیو څخه پورته ټاکل سوی وو او د بودیجې کسر (۴۴) میلیارډه افغانۍ اټکل سوی دئ. تمه سته چي یاده اندازه به د کورنیو عوایدو د کچې لوړېدو پر اساس تمویل سي او همدارنګه د هیواد پر مالي سرچینو وضعه سویو محدودیتونو ته په کتو انکشافي بودیجه کي یواځې هغه پروژې په نظر کي نیول سوي دي، چي عواید یې د نورو پروژو په پرتله زیات دي او له اقتصادي اړخه د خلکو پر ژوند مستقیم اغیز لري، چي د ریل پټلۍ او قوش تېپې کانال پروژې یې مهمې بېلګې دي.
نوموړي څرګنده کړه، چي د معاشونو د برابروالي او سپما په موخه د معاشونو د تنظیم کمېسیون ایجاد سوی او د ټولو دولتي کارکونکو پر معاشونو بیا کتنه سوې ده، چي په پایله کي د لوړ پوړو کارکونکو معاشونه را کم سوي او د ټیټ رتبه کارکونکو په معاشونو کي کوم بدلون ندی راغلی. یاد کمېسیون همدارنګه د وظیفوي تراکم او موازي تشکیلاتو د مخنیوي په موخه د ټولو دولتي ادارو پر تشکیل بیا کتنه کړې او هڅه یې کړې ده، چي د بې کاري مخنیوي وکړي. په ټول هیواد کي د روغتیا او زده کړو په برخه کي د ښو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د یادو ادارو په تشکیل کي د پام وړ زیاتوالی راغلی، چي د پوهنې وزارت د ۱۴۰۱ ل کال تشکیل ۱۸۹ زره بستونو ته رسېدلی دئ.
نوموړي همدا رنګه زیاته کړه، چي دې ته په پام سره، چي ټول پخواني کارکوونکي په ادارو کي په خپلو دندو مشغول دي، هڅه سوې ده، چي د ظرفیتونو ساتني په موخه بالمقطع کارکونکي په ادارو کي مدغم سي. د غیر ضروري لګښتونو او تجملي اجناسو له پیرلو څخه ډډه وسي.



## د افغانستان د ګمرکونو قانون د ۱۵مې مادې د حکم

د افغانستان د ګمرکونو قانون د ۱۵مې مادې د حکم له مخې لاندې اشخاص مکلف دي، اړوند ګمرکي سندونه د ګمرک ادارې د کنټرول په عرض لږ تر لږه د دوه کلونو مودې لپاره حفظ او وساتي او د غوښتنې په وخت کې یې د هغوی لاسرسي ته ورکړي:
۱- هغه مالک یا د هغه قانوني استازی چې مالونه د ګمرک قلمرو ته واردوي، صادروي یا د ګمرک د محصول د بیا ورکړې ادعا ثبتوي یا بهرني مالونه لیږدوي رالیږدوي یا زیرمه کوي.
۲- هغه مالک یا د هغه قانوني استازی چې د بهرنیو مالونو په توريد، لیږد رالیږد، زیرمې او یا د کورنیو مالونو په صادرولو لاس پورې کوي.
۳- هغه شخص چې د هغه فعالیتونه د اظهار لیک ثبت ته اړتیا ولري.

## اخبار مهم هفته



د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو څخه لیدنه وکړه

م ۲



د غوري سمنټو فابریکي

م ۲



د ۱۴۰۱ مالي کال ملي بودیجې د تصویب په هکله د ماليې د وزیر پیغام

م ۲



اسیکوډا (ASYCUDA) یا د ګمرکي معلوماتو د ثبت اتومات سیستم

م ٤



د پیسوګټل هنر نه؛ مصرفول ئې هنر دئ

م ۳

شتمني
SHTAMANAI

## د ۱۴۰۱ مالي کال ملي بودیجي د تصویب په هکله د ماليې د وزیر پیغام



السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

تر هرڅه د مخه د اسلامي امارت عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هِبة الله اخندزاده (حفظه الله)، د اسلامي امارت قدرمن رئیس الوزراء الحاج ملا محمد حسن آخند او د کابینې د ټولو درنو غړو څخه مننه کوم چې د ۱۴۰۱ مالي کال بودیجوي پلان ئې منظور او تائید کړ.

په دوهم قدم کې د گمرکونو او عوایدو، د بودیجې او خزاینو، همدا راز د وزارت د مشاورینو او کارکوونکو څخه مننه کوم چې د ماليې وزارت ټولې چارې ئې په عادي او نورمال ډول رواني ساتلي دي، بالخصوص د ملي عوایدو په راټولولو او د بودیجوي پلان په جوړولو کې ئې زحمتونه او تکلیفونه تېر کړل.

د نړیوالو معیارونو او اوصولو له مخې د یوه هیواد د بودیجوي پلان جوړول او ترتیبول تخصصي او مسلکي کار دئ، ځکه چې ددې پلان له مخې د هیواد ټولې مالي چارې د یوه کال لپاره ترتیبیږي.

د الله جل جلاله شکر اداء کوم چې د ماليې وزارت ته ئې دا توان ورکړی، چې له دوو لسیزو وروسته ئې له هر راز بهرنیو مالي مرستو پرته په لومړي وار له خپلو ملي عوایدو څخه د روان مالي کال ملي بودیجه چمتو کړه.

د سږ کال ملي بودیجه چې وروسته له اوږدې مودې، له خپلو ملي عوایدو جوړه سوې ده، د هیواد په تاریخ کې یو بې ساری گام دئ، نو موږ او تاسي ته دي دغه ستره بریا او لاسته راوړنه مبارك وي، دا به د الله تعالی نصرت او د افغانانو هلي ځلي بولو او دا پر دې دلالت کوي چې زموږ په عایداتي سرچینو کې فساد له منځه تللی دئ او د دې اداري کارکوونکي په ریښتینې توگه د هیواد بسیاکولو ته کار کوي.

**قدرمن اولسه!**

د ۱۴۰۱ مالي کال بودیجه ټوله (۲۳۱) ملیارده افغانۍ ده، چې په دې کې یې (۲۰۳) ملیارده افغانۍ عادي بودیجه ده او (۲۷،۹) ملیارده افغانۍ یې انکشافي بودیجه ده، چې ټوله د ملي عوایدو څخه ترتیب سوې ده.

که څه هم په دې بودیجه کې موږ اوس (۴۴) ملیارده افغانۍ کسر لرو، خو په دې یقیني یو چې ان شاء الله د همدې بودیجې پر اساس به د کال تر پایه خپلو مخو ته ورسیږو.

په پای کې زه تاسي ټولو هیوادوالو ته ډاډ درکوم چې ستاسي هره افغانۍ مالیه او محصول چې حکومت ته یې ورکوئ، هغه به د هیواد په بیارغونه، سمسورتیا او هوساینه کې مصرفېږي او اولس ته به پرې اړین خدمتونه وړاندې کېږي.

د یو سرلوړي او پر ځان بسیا افغانستان په هیله.

د یو سرلوړي او پر ځان بسیا افغانستان په هیله

**د ماليې سرپرست وزیر ملا هدایت الله بدري**

## د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري د افغانستان له بېلابېلو ولایتونو څخه لیدنه وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري د هیواد د گمرکونو او مستوفیتونو د کاري وضعیت د ارزوني او له نږدې د سوداگرو، صنعتکارانو، مراجعینو او کارکوونکو د ستونزو اورېدو په موخه هرات، فاریاب او جوزجان ولایتونه ته سفر وکړ.



د دغو لیدنو په لړ کې د یادو ولایتونو مسولینو د گمرکونو، مستوفیتونو او د ماليې وزارت اړوند نورو برخو په تړاو خپلې ستونزې او وړاندیزونه د ماليې له وزیر ښاغلي هدایت الله بدري سره شریک کړل او د لا شفافیت او غوره والي په موخه ئې دغه لیدنې یو نېك او گټور گام وباله.

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزیر الحاج ملا هدایت الله بدري د یادو ولایتونو د ټولو استازو سره په لیدنه کې د دوی وړاندیزونه او ستونزې په ورین تندي واورېدې او ډاډ یې ورکړ، چې امکاناتو ته په کتو او د وس تر بریده به یې ټولې ستونزې حلوي او وړاندیزونه به یې له ارزونې وروسته به بشپړ ډول پلي کوي.

## د غوري سمنټو فابریکې

د غوري سمنټو فابریکې، چې له پخوا څخه د ۴۰۰ ټنو په درلودو د سیمې په کچه له لویو تولیدلي کارخانو څخه شمېرل کیدې او لوړ ارزښت یې درلود. د غوري سمنټو اوله فابریکه چې په یوه شپه او ورځ کې د ۴۰۰ ټنه ظرفیت په درلودو سره په کال ۱۳۴۱ کې د چکسلواکیایي متخصصینو تر نظر لاندې فعالیت پیل کړ. وروسته بیا د چکسلواکیا هېواد په مرسته د غوري سمنټو دوهمې فابریکې په ۱۳۶۳ کال کې خپل فعالیت پیل کړ. له بده مرغه چې د داخلي جگړو او کورنۍ ناخوالو له امله دغه فابریکې له فعالیته غورځېدلي وې، له ۱۳۸۰ کال وروسته د افغانستان اسلامي جمهوریت له پیل سره سم دغه فابریکې بیا فعاله او په ۱۳۸۶ کال کې د غوري سمنټو فابریکې د کرکر، دودکش، آهندره او خوردرې د ډبرو سکرو کانونو سره یو ځای، د افغانستان د اقتصادي پالیسۍ پر بنسټ، د کانونو او پطرولیم وزارت او د انویسمنت (خصوصي شرکت) ترمنځ د هوکړې، د منقول او غیرمنقولو جایدادونو سره یو ځای د ۱۳۸۶ کال حمل میاشتي له (لومړۍ) نېټې د (۴۹) کلونو لپاره، په ملي سوداگرو پورې اړوند سوه.



په ۱۳۹۵ کال کې د کانونو او پطرولیم وزارت په وړاندیز د افغان انویسمنټ کمپنۍ خپلو ژمنو ته د نه پاملرني، د افغانستان دولت د کابینې د (۲۱) ۱۳۹۵/۱۰/۱۵ گڼې مصوبې له مخې د غوري سمنټو او د کرکر، دودکش، آهندره او خوردرې د ډبرو سکرو کان له افغان انویسمنټ کمپنۍ سره د قرارداد د فسخي، د یوې انتقالي مرحلې له مخې تصویب سوې، چې د ( ۳۲۱۷ پر ۶۸۱۷) نمبر مکتوب او ۹/۱۰/ ۱۳۹۷ نېټې پر اساس له ۱۲ کلونو تېرېدو وروسته د ۱۳۹۷ کال جدي میاشت په ۱۱مه مجدداً د کانونو او پطرولیم وزارت په تشکیلاتي چوکاټ کې ځای پر ځای سو. وروسته بیا د جمهوري ریاست د ۲۸مې گڼې فرمان او ۱۵/۱۱/ ۱۳۹۸ نېټې پر اساس ملي پراختیایي شرکت ایجاد او د عملیاتي اداري مرستیال یې د رئیس په توگه وگمارل سو او د غوري سمنټو فابریکې پکښې مدغم سوي. اوس مهال ملي پراختیایي شرکت د ماليې وزارت تر اثر لاندې کار کوي. دغه شرکت سربېره پر بیارغوني، تجهیز او د تولیدي پروگرامونو د تطبیق د غوري سمنټو فابریکې له موقیعت څخه هم گټه پورته کړه، د کبانو روزني فارم، د کرنیزو ځمکو چمتو کول او د نیالگیو کښېنول یې هم تطبیق کړي دي، چې په پایله کې یې ۴۰ ټنه کبان تولید، ۱۲۰ جریبه زراعتي ځمکه په قطري ډول خوړوبه او له ۳۰ زرو څخه زیات مثمر او غیر مثمر نیالگي د چاپیرساتني او د هوا د ککړتیا څخه د مخنیوي په موخه د کان د غرونو په شاوخوا کې یې کښېنولي دي.



دغه شرکت په دې هڅه کې دئ، چې د غوري سمینټو فابریکه بشپړه فعاله کړي او تولیدات په یو شبانه روز کې له ۴۰۰ ټنو څخه ۸۰۰ ټنو ته پورته کړي، ترڅو د داخلي بازارونو د اړتیا پر رفعه کولو سربېره، بهرنیو بازارنو ته هم تولیدات وړاندې کړي؛ له یوې خوا به له گاونډیو هیوادونو سره به مو سیالي جوړه وي بل خوا به د هیواد په بیارغونه، اقتصادي ودې او ځان بسیاینې کې اړینه مرسته وکړي او ترڅنگ به یې په زرهاوو هېوادوالو ته کاري فرصت برابر سي

## اعلان داو طلبی

**سیستم الکترونیکی آنلاین برای شرکت سپین زر!**

شرکت دولتی سپین زر در نظر دارد تا سیستم مالی (FIMS)، اداری، منابع بشری، جایدادها ، فابریکات تولیدی و تمام بخش های کاری که نیاز به سیستم سازی دارد به شکل الکترونیکی آنلاین از طریق داوطلبی قرارداد نماید، بنآ شرکت های راجستر شده که خواهش اشتراک در پروسه داوطلبی را داشته باشند، بعد از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۲۱) روز یا درخواستی های شان به شعبه مدیریت جایداد های شرکت دولتی سپین زر مراجعه نمایند.

SHTAMANAI

# د پیسوګټل هنر نه؛ مصرفول ئې هنر دئ

محمدنبي سلطاني

دیوویشتمي پېړۍ په راتلو سره په نړۍ کې ټکنالوجیکي انقلاب رامنځته سو، هرڅه بدلون وکړ، هرڅه نوي سول او هرڅه تر اړتیازیات سول؛ موبایل، کمپیوټر، ټلوېزیون او نور ډېر داسي توکي بازارته وړاندي سول، چي دنولسمي پېړۍ او اتلسمي پېړۍ انسانانو ئې هیڅ فکر هم نه وکړی. د دې توکو په ډېریدو سره دیوویشتمي پېړۍ د انسانانو خواهشات هم زیات سول، مخکي که به یوکس په (۱۰۰) زره افغانیو دخپل کور ګذاره کول، خو اوس ئې په(۱۰۰۰۰) لس زره هم نه سي کولای، مخکي به یوازي داړتیاوړتوکي د ضرورت په اندازه پېرل کېدل، خو اوس بې ضرورته توکي پرته له کومي اړتیا پېرل کیږي یعني داچي دیوویشتمي پېړۍ انسان که څه هم په علم او پوهه کي ارتقاء کړې خو په ضایع او مصرف کي د اتلسمي پېړۍ تر انسان مصرفي اوضایع کوونکی دئ.دی دپیسو ګټلو په چل پوهیږي، خو دمصرفولو په هغه نه، په داسي حال کي چي دپیسو ګټل هنر نه، بلکي مصرفول ئې هنر دی. دلته له زاړه څخه نیولې تر واړه پوري ټول دپیسو دګټلو په چم په اګاهانه او ناآګاهانه توګه پوهیږي، خو د مصرفولو هنر ئې نه لري، ځکه زموږ په عصر او زمانه کي دکومو شتمنو کسانو دشتمنیو ګټل او بایلل چي مالیدلي په دې پوه سوی یم، چي د دوی دپیسو ګټه نه یو پدیده پوري هنري خو لګول یي غیر هنري دي دوی لیری نه بلکي نږدې ګوري . دوی اوږدمهاله ګټي نه بلکي لنډمهاله ګټي په نظرکي نیسي. د خپلو هیوادوالو غم نه، بلکي خپل غم خوري، که نن موږ دخپل هیواد ډېر پانګوال وګورو نوپانګونه به ئې پرداسي شي کړې وي، چي نه ئې ځان اونه ئې بل ته ګټه رسیږي، بلکي یوازي به غواړي چي کاذب شهرت په ترلاسه کړ،ي چي ښه بېلګه ئې دنن بې ضرورته او بې اړتیا د راډیوګانو پرانیستل، د تفریح ځایونو جوړل، دښځو دفیشن مارکیټونه پرانیستل اونور له اندازي څخه زیات. دا خولا پرېږده ډېر داسي کسان دي چي داکارونه ئې هم ونه کړل، بلکي خپله شتمني ئې په تفریح، سفر، انډیوالیزم، ځوانیزم او یا ئې تر بېځایه سیالیو قرباني کړه، اوس پر وچ ډاګ ناست دي نې انډیوال، نې ځوانی، نې خرابات او نې مناجات په ښه ورځي، لاسونه مروړي او واخ واخ لري. دغه کسان دخپلي شتمنۍ د غرور پرنیلي سپاره وو، د(۱۰۰) افغانۍ شی به ئې په (۱۰۰۰) افغانۍ او د(۱۰۰۰) هغه به ئې په(۱۰۰۰۰) لس زره رانیوی، مېله، تفریح او انډیوالتوب ئې یوه نه بلکي هره ورځ وو، نه به خپل او نه به د اولس غم ورسره وو، وخوره او وچیښه اوبس. په کارخو داده چي څونده سړی دپیسو په ګټلو کي له هنره کار اخلي دغه ډول به ئې په مصرفولو کي څوچنده له هنر، پوهي اوځیرکتیا څخه کار اخلي، ځکه هر وخت سړي ته پیسې په لاس نه ورځي اونه هم تل سړی شتمن وي. که موږ دنړۍ دشتمنو او دکار خلکو ژوند ته په ژور نظر وګورو نو هغوی دپیسو دګټلو نه، بلکي د مصرفولو په هنر پوه وو، یا دي، چي اوس ئې شتمني له میلیاردو اوښتې، چي هم ئې ځان او هم ئې خپل اولس ته هم د کار ا و هم د ښه، مرفه او سوکاله ژوند زمینه برابره کړې ده.پیسې ئې دا ډول مصرف کړي، چي هم ئې ځان، هم ئې اولس او هم ئې هیواد ته ګټه رسیږي. زموږ پانګوالو ته هم په کار دا ده چي پر داډول بنسټیزو کارو پانګونه وکړي، چي خیر ئې ټول ملت ته رسیږي، کارخانې پوهنتونونه، مدرسې، ښوونیز مرکزونه او... جوړي کړي. له هغوکارونو ډ ډه وکړي، چي یوازي ئې ګټه د یوه شخص جیب ته لوېږي او یا ئې عامه ګټه نه وي او یا یوازي د نوم او ښبان لپاره وي او یا هسي د مال ضایع کول وي، ځکه دمال ضایع کول الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم نه خوښوي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

الله ستاسي لپاره درې شیان نه خوښوي:

١ بي فایدې بحث اوخبري کول.

٢_ ډېر سوال او جواب کول.

٣_ دمال ضایع کول.

نو موږ ته هم په کار ده چي دپیسو دضایع کولو څخه ډ ډه وکړو خپلي پیسې په خرابات، انډیوالیزم، ملګرتوب، ځانښووني او نورو ناوړه کارونو کي مصرف نه کړو، بلکي داسي ځای ئې مصرف کړو، چي هم خدای راضي سي او هم ئې مخلوق ته ګټه ورسیږي.



# د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته د ماليې وزارت عوایدو لوی ریاست کړنو او لاسته راوړنو ته لنډه کتنه

د مالیې وزارت عوایدو لوی ریاست، چي د عوایدو راټولو او عایداتي سرچینو د تشخیص او پیدا کولو دنده پر غاړه لري، د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته یې په ډیر کم وخت کي وکولای سول، چي د عوایدو ریاست تر چتر لاندي د لسو (۱۰) ریاستونو ټول سیسټمونه فعال کړي.

١. فساد سره مبارزه او د مخفي بېکارۍ له منځه وړل.

٢. د عشر او زکات د طرحی مسوده تهیه او ترتیب کول.

٣. د تحلیل او خطر د طرزالعمل مسوده ترتیب کول.

٤. د وروستۍ (بعدی) بررسی طرزالعمل نهایي کول.

٥. د هیواد په سطحه د مالیه ورکونکو د عامه پوهاوي لپاره د مالیاتي اوونۍ د کابل په شمول ۳۳ ولایتونو کي نمانځل.

٦. د مرستو د همغږۍ او نظارت تګلارې مسوده چمتو کول.

٧. د مالیه ورکوونکو د ستونزو اورېدو او مستوفیتونو سره د همغږۍ کولو هیئت لیږل.

٨. د نویو مالیاتي سرچینو پیداکول.

٩. پر کسبګرو او دوکاندارانو باندې د مالیې نورم کي کمښت راوستل او د هغوی تشویق تر څو خپله مالیه پر خپل وخت د دولت حساب ته تحویل کړي.

١٠. د هیواد د راتلونکي لپاره پر اقتصادي پلان کار کول.

١١. د عوایدو لوی ریاست ۳۰۰ نویو استخدام سویو کارکونکو ته د ظرفیت لوړوني او مالیه ورکونکو سره د ښه سلوك او خدمتونو چمتو کول ورکشاپ ورکول.

١٢. د دولتي شرکتونو څخه د ۷۵ سلنې خالصې ګټې له مدرکه د مالیې وزارت واحد حساب ته د څه باندې ۷۰ میلیونو افغانیو انتقال.

١٣. د ملي پراختیا شرکت سره د کانونو وزارت د رویالټي له مدرکه د عوایدو تعقیب او د مالیې وزارت ځانګړي بانکي حساب ته د ۵۱۹ میلیونو افغانیو انتقال.

١٤. د برېښنا شرکت، بهرنیو چارو وزارت او د احصایې ملي اداري سره په همغږۍ په ایران کې د بهرنیو چارو وزارت او احصائې ملي ادارې پاتې ٦١٩ او ١٧٩ میلیونه افغانۍ عواید چې د اقتصادي بندیزونو له وجې د تېرو څو کالونو څخه پاتې وې د مالیې وزارت واحد حساب ته لیږل.

١٥. د کابل بانک د تصفې مدیریت سره د رسمي مراسلاتو په پایله کي د مالیې وزارت بانکي حساب ته د ۹۱ میلیونه افغانیو لیږد.

١٦. د ۵۰۱۹ انفرادي او ۶۹۴ حکمي اشخاصو لپاره د مالیه ورکوونکي تشخیصه نمبر توزیع او د ۴۰۳۱۱ انفرادي او حکمي اشخاصو په سیسټم کي تائید سوي دي او همدارنګه د مالیه ورکونکي د تشخیصیه نمبر او په انلاین ډول د سګتاس په سیسټم کي ثبت کیږي.

١٧. د ۴۵ هغو شرکتونو چي مخکي د عوایدو لوی ریاست په سیسټم کي ثبت نه وه د هغو ثبتول.

١٨. د ارزونې او تحلیل وروسته د ۸۱ قراردادونه په TAIS سیسټم کې ثبت او همدرانګه د ۱۷۲ قراردادونه هم د TAIS په سیسټم کې ثبت سوي دي.

١٩. د مرکز او د ولایاتو د مستوفیتونو کارمندانو ته د ۸۰۰ مالیاتي فورمو توزیع کول.

٢٠. د ۹۵ عوایدي ادارو د عوایدو تعرفو، صنفي عواید او بانکي اویزونو نظارت او په RMIS کې ثبت کول.

٢١. د ۴۰ نهادونو د دوسیو د برسیو پایلي صادرول او ۲۰,۲۱۱,۲۲۲,۰۰ عواید راټولول.

٢٢. د (۱۷۷) نهادونو لپاره د تطبیقي قضیو جوړول او د (۵۳) عدم اطاعت پذیر نهادونو حاضرول او بررسۍ ته د یادو نهادونو د دوسیو لیږل.

٢٣. د ۴۰۰۰ جلدو د اظهارلیکونو، فورمو، رهنمودونو او قوانینو چاپ او د هغو توزیع د مرکز مالیاتی دفترونو او د ولایاتو مستوفیتونو ته.

٢٤. د شفافیت او اطاعت پذیرۍ سطحې لوړوالي لپاره د الکټرونیکي سیسټم ۱۰۰٪ تطبیق او پلی سو، چې ۸۰ نهادونو ته د الکټرونیکي اظهارلیکونو د تطبیق لپاره یوزر جوړ سو او همدارنګه د برېښنالیك په واسطه ټول مالیه ورکونکو ته اطلاعیه ولیږل سوه؛ تر څو مالیه ورکونکي پوهاوی تر لاسه کړي، چې خپله مالیه په ټاکې نېټه ادا کړي.

٢٥. د ۷۰ نهادونه او شرکتونو دوسیو ثبت، چې د نورو مالیاتي مرکزونو او مستوفیتونو څخه انتقال سوي دي او د هغوی بیلانس د سیګتاس په سیسټم کې صفر کول.

٢٦. د اسلامي امارت د راتګ څه وروسته د ۴۱ لویو، ۲۷۷۸ منځنیو او ٦٨٣ کوچنیو مالیه ورکونکو نهادونو ته ابتدائي تحقق او د هغه مالیه ورکونکي تعقیب، چې د ۱۳۹۹ مالي کال اظهارلیك ندی تحویل کړی، چې په نتیجه کې ۲۷۰۰ انتفاعي او موضوعي اظهارلیك لویو مالیه ورکونکو ریاست د اجرا لپاره ثبت سوی.

٢٧. ۳۱۴۰ مالیه ورکونکو ته د الکټرونیکي سیسټم تطبیق لپاره ټریننګ ورکړل سو او د هغوې لپاره د الکټرونیکي سیسټم تطبیق لپاره یوزر جوړ او آماده سو.

٢٨. د ودونو تالارونو د ناخالص عوایدو طرزالعمل بیا ځلي مرور په خاطر د ودونو تالارونو اتحادیو غړو سره د همغږۍ جلسه، چي په پایله کي یې د طرزالعمل ځینو مواردو د بیاځلي مرور او د اړتیا په صورت کي بدلون په جریان کي قرار لري.

٢٩. د کنټرول او کیفیت په خاطر د بعدي ارزونې په خاطر د ۱۱۰ نهادونو تحلیل او ارزیابي سوي دي، د نوموړو دوسیو د بررسۍ څخه ٦۴٦،۴۷۸ افغانۍ تحصیل سوي دي.

٣٠. د شکایاتو د اورېدلو ریاست د اسلامی امارت راتګ څه وروسته ۲۵ قضیې د اصنافو او شرکتونو ته رسیدګۍ او فیصلې یې هم صادر سوې دي.

شتمنی
SHTAMANAI

## ګمرکونو کي په کلکه د قاچاق مخنيوی کيږي



تېره ورځ د ننګرهار ولايت ګمرک ته ورڅېرمه د پلټني او تالاشيو يا چک پوستونو مديريت؛ د دې ګمرک د مسؤلينو له لوري ګاونډي هيواد ته په لويو باوړونکو موټرونو کي د ټوپکو پوچکونه (کارتوس) برېښنايي مزي او نوري زړې اوسپني چې په بوجيو کي ځای پر ځای سوي وې او غوښتل يې په ناقانونه او قاچاقي ډول يې ګاونډي هيواد ته ولېږدوي نيولي دي.

د ننګرهار ولايت ګمرک د مسؤلينو په خبره په دې تړاو يې قاچاق وړونکي نيولي دي او له قاچاق سره د مبارزې برخې اړوندو ادارو ته د پوښتنو او ګروېږنو په موخه سپارلي دي.

د يادونې وړده، چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته د ننګرهار ولايت په ګمرک کي په ځلونو دا ډول پېښې سوي او مسؤلينو يې ګاونډي هيواد ته د قاچاق او توکو د غير قانوني اوښتني مخنيوی کړی. د دې ولايت ګمرک او د پلټنې مسؤلين اوس د قاچاق او قاچاق وړونکو پر وړاندي ستر خنډ بلل کېږي او په دې برخه کي د کره پلټني ډاډ ورکوي.

# اسيکوډا (ASYCUDA) يا د ګمرکي معلوماتو د ثبت اتومات سيستم

د اسيکوډا سيستم له راتګ څخه مخکي په ټوله نړۍ کي د ګمرکونو اتومات کولو لپاره کوم ځانګړی سيستم يا پروګرام نه وو. د سوداګرۍ او پراختيا په اړه د ملګرو ملتونو کنفرانس (UNCTAD) په ۱۹۸۱ کي د اسيکوډا سيستم د ځينو پرمختللو هيوادونو په غوښتنه او وړانديز تاسيس کړ. دا سازمان د نړۍ په هيوادونو کي د اسيکودا سيستم د پلي کولو مسؤليت لري.

د اسيکوډا سيستم له ۱۹۸۱ ميلادي کال راهيسي زموږ د ګاونډيو هيوادونو په ګډون تر ۹۰ زياتو هيوادونو کي پلی او کارول کيږي، چي له نېکه مرغه افغانستان هم د ياد سازمان غړيتوب ترلاسه کړی او اوس ګمرکي مالونه او نړيوال ترانزيتي مالونه پکښي طی مراحل کيږي. دغه سيستم له نن څخه ۱۸ کاله وړاندي په کال ۲۰۰۴/۱۳۸۳ کي د نړيوال بانك په مالي مرسته د ماليې وزارت د ګمرکونو په لوی رياست کي پلی سو، چي د ګمرکي چارو، محاسبې، احصايې، د مالونو د ټرانزيت او د مالونو د ګمرکي طی مراحل په موخه ورڅخه کار اخيستل کيږي، چي لومړني ځل لپاره په تورخم ګمرك کي پلی سو.

اسيکوډا څه شی دئ؟

ASYCUDA) يا د ګمرکي معلوماتو لپاره اتومات سيستم): د ګمرکي مالونو د طی مراحل کولو او راپور اخيستلو يو کمپيوټري سيستم دئ، چي د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختيا سازمان (UNCTAD) لخوا د نړۍ په کچه هيوادونو په ځانګړي توګه مخ پر ودې هيوادونو لپاره وړانديز سوی. اسيکوډا د کمپيوټري چارو يو پرمختللی الکترونکي سيستم دئ، چي ګمرکي پروسيجرونه (صادرات، واردات او ټرانزيټ) تر پوښښ لاندې نيسي.

اسيکوډا (ASYCUDA) يا د ګمرکی چارو اتومات (کمپيوټري سيستم) له لاندي ټکو څخه اخيستل سوی دئ:

اتومات سوی - A - Automated
سيستم يا نظام - Sy – System
ګمرګونه - Cu - Customs
معلومات - Da - Data

چي تکميل سوې بڼه يې (Automated System for Customs Data) ده.

همدارنګه ګمرکي اظهار ليك، د محصول محاسبه او د سوداګريزو توکو ټرانزيټ بې له کوم ځنډ نه تر پوښښ لاندي راولي او له دې سره سره د اقتصادي تحليل لپاره د سوداګريزو مالونو دقيقه احصايه چمتو کوي.

د اسيکوډا سيستم د دې وړتيا لري، چي د هر هيواد قانون او تعرفه‌يي کوډ سره سمون وومومي.

اسيکوډا کولی سي، چي خپل معلومات او اطلاعات د دولتي ادارو، سوداګرو او مختلفو هيوادو ترمنځ تبادله او مخابره کړي.

اسيکوډا نه يواځي د ګمرکونو کارکوونکو او ملي سوداګرو ته د ګمرکي چارو آسانتياوي برابروي؛ بلکي د کارکوونکو او ملي سوداګرو ترمنځ اړيکي هم تر ډيره حده کموي، چي دا امر په خپل ذات کي د اداري فساد په مخنيوي کي اړين رول لري.

او همدارنګه د اسيکوډا سيستم د ګمرك د نړيوال سازمان د معيارونو او د ملګرو ملتونو د نورم او ستنډرډ سره مطابقت لري.



# نقش یک مطبعه محرم در حصه طبع اوراق بهادار



مطیع الله فرازی

اغلب چالشهای اقتصادی وبالا رفتن سطح جرایم جعل اسناد در یک کشور بنا برنبود امنیتی بودن اسناد بهادار (محرم) آن بوده وسبب ازدیاد جعل در اسناد مهم ومحرم دولتی شده ودر نتیجه سبب ایئتلاف عواید دستگاه عواید میگردد. این امر غالبا در کشور های رو به انشکاف رخ میدهد ویگانه سبب اصلی آن نبود اوراق دارای علایم ایمنی و (واترمرک) منحصر به یک کشور میباشد. کشورهای روبه انشکاف در شرایط کنونی یک توجه خاص درمورد بالابردن امنیت اوراق بهادار (محرم) خویش داشته باشند تا مافیای منطقوی نتواند از اوراق بهادار سوی استفاده شخصی ومنفعت منطقوی را اخذ نمایند. در حد اوسط تنها راه که حد اقل بتواند جلو همچو موارد را بیگیرد جاسازی واترمارك در کاغذ های اوراق بهادار (محرم) میباشد ازاین طریق جلو جعل وتذویر اسناد بهادار بخاطر جلوگیری ازایئتلاف عواید گرفته شده ویک اعتبار خاص به اسناد بهادار (محرم) درکشورمیدهد. اکثراً کشورهای همسایه افغانستان در راستای افزایش عواید داخلی واعتبار اسناد محرم خویش در مارکیت های جهانی با ساخت یک مطبعه محرم ومخصوص که دخالت هیچ کشور خارجی درآن نبوده است با تهیه اوراق امنیتی از شرکتهای ساخت کاغذ های امنیتی بین المللی اقدام به ساخت این چنین مطابع نموده اند. ازیک طرف باعث افزایش عواید داخلی آنها گردیده است وازسوی دیگر سبب اعتبار اسناد بهادار آنها در بازار های بین اللملی گردیده است. افغانستان کشوری است در حال انکشاف ودرگیر با مافیای منطقوی وجهانی باید به چنین موارد در یک مطبعه توجه جدی صورت گیرد. شرکت مطبعه صکوك وضرابخانه وزارت مالیه که درحصه طبع اسناد بهادار وغیر بهادار حك مواهیر وضرب نمبر پلیت ها که چند سال کمتر از یک قرن میشود به فعالیتش در این راستا ادامه میدهد. تصدی مطبعه صکوك وضرابخانه در سال ۱۹۵۰ در زمان امیر عبدالرحمن خان در باغ شاهی ارگ به منظور چاپ تمام اوراق بهادار واسناد محرم اساس گذاشته شد و بعداً در سال ۱۹۶۵با ضرابخانه که در آن مسکوکات فلزی از قبیل سکه مدالها وانواع مختلف مسکوکات فلزی ساخته میشد باداشتن شخصیت حقوقی بحیث تصدی انتفاعی دولت تحت اثر وزارت محترم مالیه مطابق احکام قانون تصدی های دولتی شامل شد. ودر اول ماه جدی سال ۱۳۹۹ به شرکت دولتی تغیر شخصیت حقوقی نموده ومطابق احکام قانون شرکتها فعالیت می نماید.

برمبنای اصول کاری این شرکت ,چاپ اسناد بهادار وغیر بهادار، شامل نمبر پلیت های وسایط ترافیکی ،هک نمودن مواهیر وعمدتاً اوراق مطبوع وزارت محترم مالیه که عواید آن مربوط به دولت میگردد, وظیفه مشخص این مطبعه دانسته شده است. که تاکنون به فعالیتش ادامه میدهد.

فعالیت های کلیدی ؛

- ✓ طبع اوراق بهادار، غیر بهادار به شمول انواع سرتیفیکیت های نهاد های تحصیلی ، انواع جواز، با علایم ایمنی.
- ✓ چاپ نمبر پلیت واسطه های ترافیکی سراسر کشور
- ✓ هك مواهیرلیزری، رابری و سنگی
- ✓ چاپ و تهیه آی دی کارت با درج علایم ایمنی به روی انواع کارت های PVC
- ✓ چاپ بالای انواع تکه ها (سلك)
- ✓ چاپ بلبورد و انواع بنر ها
- ✓ چاپ انواع استیکر ها با علایم ایمنی

توانایی وقابلیت ،موثریت و مثمریت با استفاده از فرصت ها:

- بلند بردن سطح اعتماد به تمام اسناد محرم طباعتی دولتی و خصوصی .
- طبع اسناد بهادار سکتور دولتی ، خصوصی و نیمه خصوصی با کیفیت عالی.
- حکاکی مواهیردولتی ،شرکتها و مؤسسات خصوصی.
- عرضه خدمات به موقع به منظور جلب رضایت مندی.
- ضرب زدن نمبر پلیت های موتر و وسایط انجن دار با انواع و اقسام آن با کیفیت عالی.
- تقویت منابع مالی عقد قرارداد امور تولیدی با مؤسسات داخلی ،خارجی و اشخاص انفرادی.
- بلند بردن ظرفیت طباعتی در کشور به منظور خودکفایی.
- چاپ کارت های استخوانی و پلاستیکی وپولی کاربونیت
- فراهم نمودن زمینهٔ طبع اسناد محرم با استفاده از تکنالوژی معاصر
- نیل به خود کفایی در عرصهٔ طبع اسناد محرم و رقابت به بازار های خارجی
- جلوگیری از فرار اسعار ،جلوگیری از ایئتلاف عواید ،جلوگیری از جعل و تزویر اسناد
- بلند بردن اعتبار اسناد دولتی
- ارتقای سطح فعالیت اقتصادی و مالی شرکت با رعایت اصل مفیدیت ،موثریت و مثمریت.



توسعه تولید و بهتر ساختن کیفیت محصولات طباعتی .

•اثرات محرمیت و مصونیت اسناد در دراز مدت:

- رشد حکومتداری الکترونیکی، بلند بردن موثریت پروسه های کاری و زمینه سازی برای اصلاحات اداری خصوصاً در سکتورهای:
- امنیتی
- عدلی و قضایی
- جمع آوری عواید
- تعلیمی و تحصیلی
- صحت
- مبارزه با فساد اداری
- ترانسپورت

بلند بردن ظرفیت های طباعتی در یک مطبعه:

- تهیه ماشین آلات فنی جهت طبع اسناد بهاداربا درنظرداشت تکنالوژی معاصر روز.
- تهیه نرم افزار برای دیزاین ایمنی
- دیزاین تمامی اسناد مصئون بهادار غیر بهادار نهاد های خصوصی نمیه خصوصی دولتی با یک هماهنگی مشترك .
- توسعهٔ طبع اسناد محرم با استندرد ISO (International Organization for Standardization)
- لابراتوار مجهز جهت تست اوراق امنیتی ورنگ های ترکیبی.
- ایجاد یک تیم متخصصین فنی وتخنیکی غرض پلانگذاری دقیق جهت تحقق اهداف آینده.
- ایجاد یک تیم مارکیتینگ به منظور شناسایی اوراق بهادار ومصئون در ادارت دولتی واخذ فرمایشات جهت رشد توسعه فعالیت های طباعتی وبلند بردن سطح اوراق بهادار .

د امتياز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: محمد نبي سلطاني
کتنپلاوی: اجمل زاهد او محمد ابراهيم ګران
د خبر مدير: داود نظري
خبريال: سيد مصطفی سروش
د معلوماتو راټولوونکی: محمد افضل الکوزی
عکاس: فضل احمد يوسفزی
ډيزاينر: محمد نسيم ظهوري

د ماليې وزارت نشرات په لاندي آدرسونو کتلای سئ:
ويبپاڼه: mof.gov.af
ټويټر: afghanistanmof@
يوټيوب: afghanistan mof